مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۲۴** (از ٦ الی ۱۳ سرطان ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### از وزیرستان بزرگ تا خراسان بزرگ!

- چه کسانی به داعش می‌پیوندند؟........ ۴
- از عقیده تا عقده: ........ ۵
- امکانات بهره‌گیری از معادن افغانستان ........ ٦
- نتیجه گیری: ........ ٦

### افغانستان-پاکستان اړیکې؛ آیا د تورونو لګولو لوبه بیا پیلېږي؟

- د پاکستان اړتیا ........ ۹
- له استخباراتي همکاریو تر تورونو لګولو ........ ۱۰
- لابي که بې باوري؟ ........ ۱۱
- وروستۍ خبرې ........ ۱۲

## مقدمه

په تېرو څو اوونیو کې په افغانستان کې د داعش ډلې حضور او فعالیت په ملي او نړیواله کچه پام ځان ته اړولی دی. د داعش ډلې مشر ابوبکر البغدادي ته د طالبانو لیک او بیا طالبانو ته د داعش توند ځواب دا پیغام له ځان سره درلود، چې د افغانستان جګړه یوه بل پړاو ته داخله شوې ده. جګپوړي افغان چارواکي هم په غیرمعمولي ډول په مشخصو راتلونکو میاشتو کې د امنیتي وضعیت د خرابوالي وړاندوینه کوي.

نړیوال هم په افغانستان کې د دغې ډلې ناڅاپي راپورته کېدو اندېښمن کړي دي. روسیې ته د پخواني ولسمشر حامد کرزي په سفر کې روسي ولسمشر ولادمیر پوتین په افغانستان کې د داعش فعالیت د یوې سترې اندېښنې په توګه یاد کړ. د دې ترڅنګ دا خبره هم په نړیوالو مطبوعاتو کې مطرح ده چې دا ډله د افغانستان کانونو ته د لاسرسي په هڅه کې ده. خو پوښتنه دا ده، چې په افغانستان کې د دې ډلې فعالیت ولې په حیرانوونکي ډول په ډېره کمه موده کې پراخ شو او په افغانستان کې د دې ډلې ترشا کوم پټ لاسونه د ملاتړو په توګه کار کوي؟

همدارز له څو وروستیو امنیتي پېښو وروسته یو ځل بیا د ځینو افغان چارواکو په څرګندونو کې له پاکستان سره، د تورونو لګولو لوبې د بیا پیل څرک لګېږي. د ملي وحدت حکومت اجرایي رییس ډاکتر عبدالله هم په خپلو وروستیو څرګندونو کې ویلي چې د پاکستان له اقداماتو نهیلي شوي دي. که څه هم ولسمشر اشرف غني د سولې په برخه کې ډېرې هیلې لاهم په پاکستان پورې تړلې دي او د پاکستان هرې غوښتنې ته یې لبیک ویلی، چې ښه بېلګه یې هم وروستی لانجمن استخباراتي تفاهم‌لیک دی، مګر بیا هم پاکستان یا خو خپله تګلاره بدله نه کړه او یا یې هغه څه له وسه پوره نه دي چې افغان لوری یې غوښتنه ترې لري. آیا دا اړیکې بېرته پخواني حالت ته ګرځېدونکې دي او که د پردې ترشا بله لوبه روانه ده؟

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، په همدغو موضوعاتو د مرکز د خپرنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# از وزیرستان بزرگ تا خراسان بزرگ!




در اوایل سال جاری میلادی که سروصدای حضور داعش در افغانستان بلند شد، کمتر کسی می‌توانست باور کند که این گروه بتواند در اندک زمان به عنوان یک گروه فعال در میدان جنگ افغانستان مطرح گردد؛ اما اکنون شش ماه بعد، این گروه لااقل در بخشی از ولایت ننگرهار در شرق افغانستان، توانسته است جای پایی برای خود بیابد.

نگرانی از ظهور داعش در افغانستان، در خارج از افغانستان نیز به شدت محسوس است. در سفر حامد کرزی به ماسکو، ولادیمیر پوتین رییس جمهور روسیه ضمن ابراز نگرانی از این مسئله گفت که داعش در 24 ولایت از 34 ولایت افغانستان حضور دارد.

مقامات نظامی امریکایی که تاکنون در این رابطه زیاد حرف نمی‌زدند، در این اواخر نگرانی مشابه را از گسترش روز افزون این گروه در نقاط مختلف افغانستان ابراز داشته اند

در شمال افغانستان هرچند تاکنون این گروه دست به فعالیت نظامی نزده است، اما کار سرباز گیری آنان ادامه دارد و در بعضی از ولایات شمال، افرادی بنام داعش در تلاش جلب وجذب مردم اند که این مسئله از آسیای میانه تا ماسکو، به نگرانی‌ها افزوده است.

## چه کسانی به داعش می‌پیوندند؟

هرچند گفته می‌شود که افراد داعش همان طالبان اند که بیرق‌های خود را تغییر داده‌اند، اما غیر از عبدالروف خادم که قبلا در حملۀ طیارۀ بی‌سرنشین امریکایی کشته شد، هیچ فرد مهمی از طالبان افغان تاکنون با این گروه اعلام بیعت نکرده است. البته طالبان می‌پذیرند که بعضی از افراد که قبلا با طالبان بودند و به دلیل تمرد از فرمان رهبری از صف طالبان اخراج شده بودند، اکنون به داعش پیوسته اند.

بخشی از بدنۀ داعش که در افغانستان درگیر جنگ با طالبان اند، از طالبان پاکستانی تشکیل شده است که از تحریک طالبان پاکستان به رهبری مولانا فضل الله جدا شده‌اند. مشهور ترین فرد از آنان شاهدالله شاهد است که قبلا سخنگوی طالبان پاکستانی بود، اما بعدا به دلیل نزدیکی با آی اس آی از صف طالبان پاکستانی رانده شد.

حافظ سعید خان که از طرف رهبری داعش به عنوان امیر ولایت خراسان تعیین گردیده، نیز زمانی با طالبان بوده و سپس از آنان بریده است.

بخش دیگری از افراد داعش را افراد حزب اسلامی حکمتیار تشکیل می‌دهند. این افراد که در طول بیش از یک دهۀ گذشته هم از طرف دولت افغانستان نادیده گرفته شدند و هم طالبان آنان را به عنوان یک گروه مستقل نپذیرفتند، اکنون فرصت را مساعد دیده و بر بنیاد نارضایتی از دولت و طالبان، به این گروه تازه تاسیس پیوسته اند.

اما یک گروه دیگر نیز در میان جنگجویان این گروه در شرق افغانستان وجود دارد که هرچند لباس محلی به تن دارند، اما مردم محل به این باور اند که آنها نظامیان پاکستانی اند. برنامۀ تنظیم، بسیج و جنگ آنها را همین گروه سوم تنظیم می‌نماید.

برعکس سوریه و عراق که داعش دعوت خویش را در میان گروه‌های سلفی گسترش می‌دهد، در افغانستان تاکنون دعوت این گروه فرقه‌گرایانه نبوده است. دلیل آن نیز شاید این باشد که مسلک سلفی در افغانستان برای اکثریت مردم شناخته شده نیست.

اما در جامعۀ قبایلی افغانستان، هر مفکوره‌ای رنگ و بوی قبایلی به خود می‌گیرد و وابستگی‌های قومی و منطقوی حتی مرزهای ایدیولوژیک را نیز کمرنگ می‌سازد که داعش نیز از همین آغاز کار از این نقیصه بی‌بهره نیست.

عبدالرحیم مسلم‌دوست که جزء اولین افغان‌هایی بود که با رهبر داعش بیعت کرد، از ولسوالی کوت ننگرهار است و به همین دلیل هم وقتی پای داعش به ولسوالی‌های ننگرهار رسید، تعدادی از جنگجویان از ولسوالی کوت به آنان پیوستند.

حافظ سعید خان امیر داعش در خراسان از ورکزی اجنسی است و امروز بخش بزرگی از جنگجویان مربوط به طالبان پاکستانی از ورکزی اجنسی با داعش پیوسته اند.

## از عقیده تا عقده:

همانگونه که تذکر رفت، افرادی که هم با بی‌اعتنایی دولت و هم با بی‌مهری طالبان روبرو بودند، به این گروه پیوسته اند. می‌توان گفت که تاکنون پیشرفت داعش در افغانستان بیش از اینکه ناشی از عقیده باشد، ناشی از عقده است. همین عقده می‌تواند عامل مهم در ترغیب آنان به جنگ با طالبان باشد.

در میان رهبران جهادی، حکمتیار یگانه شخصی است که با گروه داعش لااقل نوعی ابراز همدردی نموده است. به عنوان مثال حکمتیار در مصاحبه با سایت افغان زواک در مورد داعش می‌گوید:

"قیام داعش در حقیقت عکس العمل طبیعی علیه تجاوز امریکا به جهان اسلام، علیه حکومت‌های مرتد، فاسد و ظالم در عراق و سوریه، علیه مداخله‌های خایینانهٔ تهران در حمایت از این دو حکومت مرتد و اعزام جنگجویان اجیر به این دو کشور و در مجموع عکس العمل مشروع و طبیعی مسلمانان مظلوم علیه جبههٔ کفر، نفاق و ارتداد است".

"داعش تحریکی است که برعکس طالبان، حکومت‌های وابسته به واشنگتن و ماسکو، تهران و ریاض و دیگران بصورت مشترک و به شدت مخالف آن اند.... همه دشمنان اسلام پیشرفت داعش را بعنوان یک خطر بزرگ می‌نگرند و برای مقابله با آن بصورت مشترک کمر بسته اند".

حکمتیار به این باور است که علیه داعش یک جبههٔ مشترک کفر، نفاق و ارتداد باز شده است و همین عکس العمل دشمنان اسلام به عنوان نشانهٔ آشکار و قاطع از حقانیت داعش کافی است.

## امکانات بهره‌گیری از معادن افغانستان

داعش در عراق و سوریه با استفاده از فروش نفت، پول کافی برای تمویل و تجهیز جنگجویانش به دست می‌آورد. اخیرا گروه "دولت اسلامی" با ضرب سکۀ طلا، پول خود را شامل معاملات بازار نمود.

پیشبینی می‌شود که اگر داعش در افغانستان قوت بگیرد، در تلاش استفاده از منابع معدنی افغانستان برای تمویل عملیات نظامی خود در این منطقه استفاده خواهد کرد. لازم به تذکر است که طالبان قبل از داعش این برنامه را در افغانستان پیاده کرده‌اند و برای تنظیم امور معادن در مناطق تحت کنترول شان، کمیتۀ معادن را در چهارچوب کمیسیون مالی به میان آورده‌اند.

این کمیته وظیفه دارد تا معادن را به شرکت‌های داخلی یا خارجی به اجاره بدهد و در عین حال از کار استخراج نیز نظارت به عمل آورد تا استخراج به صورت فنی صورت گیرد. معادن بیرایت جنوب افغانستان یکی از منابع به دست آوردن پول برای طالبان است.

اما در افغانستان برای داعش فقط استفاده از معادن کوچک که استخراج آن نیازمند تکنالوژی پیچیده نیست، ممکن است. برای کمپنی‌های بزرگ که توان استخراج معادن افغانستان را دارند، با حضور داعش حتی تصور آمدن به افغانستان نیز دشوار خواهد بود.

## نتیجه گیری:

از نظر انگیزۀ مذهبی، داعش به عنوان یک گروه سلفی، در بخش کوچکی از افغانستان شانس بهره‌گیری از عنصر مذهبی را دارد، اما این گروه با بهره‌گیری از عقده‌هایی که نتیجۀ دوران طولانی از جنگ در افغانستان است، می‌تواند طالبان را به چالش بکشد و به این ترتیب بار جنگ را بر دوش نیروهای مسلح افغانستان سبک‌تر سازد.

اما از نظر فکری؛ همانگونه که در منهج این گروه نیز آمده است، باید در جهت اصلاح افکار مردم در مناطق تحت کنترول خود بپردازد. تجربه نشان داده که افراد داعش کار اصلاح را در کشورهای دیگر با بهره‌گیری از خشونت انجام داده‌اند، اما این کار یا به عبارۀ دیگر ترویج باورهای سلفی در افغانستان، برای آنان مشکل‌آفرین خواهد بود.

داعش یک حرکت بین‌المللی است که به فعالیت در محدودۀ مرزهای افغانستان اکتفا نخواهد کرد. افغانستان برای داعش به عنوان تختۀ خیز به سوی آسیای میانه مطرح است. به همین دلیل حتی عبدالکریم خرم رئیس دفتر رییس

جمهور سابق افغانستان این کار را دسیسهٔ امریکا می‌داند و در مقاله‌ای پیشبینی می‌کند که "دامنهٔ جنگ به کشورهای همسایهٔ افغانستان و مرزهای چین کشانده می‌شود و برای عملی شدن این نقشه ضرورت است تا افغانستان به یک "وزیرستان بزرگ" مبدل گردد. به عبارهٔ دیگر پیش زمینهٔ تاسیس سرزمین خراسان در قلمرو خلافت اسلامی داعش، گسترش وزیرستان تا سرحد آمو در شمال و سرحد ایران در غرب افغانستان خواهد بود.

# افغانستان-پاکستان اړيکې؛ آیا د تورونو لګولو لوبه بیا پیلېږي؟



د افغانستان په ګاونډ کې د پاکستان له رامنځ ته کېدو راهیسې، د دواړو هېوادونو اړیکې د تاریخ په ډېرې پړاوونو کې ښې نه وې. د دغو دوو هېوادونو ترمنځ د دین، ژبې او کلتور شراکت هم نه دی توانېدلي چې دا اړیکې د ښه‌والي په لور بوځي.

له ۲۰۰۱ کال راهیسې چې د افغانستان په تاریخ کې یو نوی باب پرانیستل شو، نوی ولسمشر او نوی نظام راغی، حامد کرزي په لومړیو کې ډېرې هڅې وکړې چې دا اړیکې ورغوي. په همدې موخه يې د خپلې واکمنۍ پر مهال پاکستان ته ۲۱ سفرونه وکړل. خو حامد کرزي د خپلې واکمنۍ په وروستیو ورځو کې اعتراف وکړ چې پاکستان مرسته ورسره ونه کړه. کرزي د سولې کیلي د پاکستان او امریکا په لاس کې ګڼله[1]. کرزی له واکمنۍ وروسته هم د یوه پاکستان‌ضد او هندپلوي سیاسي مشر په توګه راڅرګند شو.

مګر د ۲۰۱۴م کال په سپټمبر کې د ملي یووالي حکومت له راتګ سره له پاکستان سره د ښو اړیکو لړلو هڅه وشوه. غني د خپل بهرني سیاست پنځه کړۍ معرفي کړې، چې پاکستان ته په لومړۍ کړۍ کې ځای ورکړل

[1] See online:

http://pa.azadiradio.org/content/article/26601700.html

شو[2]. اشرف غني د حامد کرزي د سیاست پر خلاف له پاکستان سره د تفاهم لار ونیوه. د غني حکومت له پاکستان سره د اړیکو محور له امنیت څخه اقتصاد ته واړاوه. غني په سیمه کې د اقتصادي پیوستون له لارې هڅه کوي له پاکستان سره تاریخي ترېگنۍ پر دوستۍ واړوي.

## د پاکستان اړتیا

ولسمشر اشرف غني چې په تخصصي لحاظ یې په اقتصادي برخه کې کلونه کار کړی، د خپل حکومت له راتګ سره، له پاکستان سره پر اقتصادي اړخ ډېر زور اچولی؛ سره له دې چې تر دې دمه د پاکستان له خوا کومه ملموسه اقتصادي مرسته یا لږ تر لږه نرمښت هم نه دی لیدل شوی. ان د اپټا په تړون کې افغان حکومت د پاکستان په ګټه منلې چې تاجکستان هم د دغه تړون برخه شي؛ خو پاکستان د افغانستان د دې غوښتنې پر وړاندې چې هند هم شامل شي، له پاکستان سره د هند د اړیکو د عادي کېدو شرط کېښود. داسې شرط چې په تېره نیمه پېړۍ کې یې د پوره کېدو امکان رامنځ ته نه شو!

په حقیقت کې د ولسمشر غني هدف دا دی، چې پاکستان په افغانستان کې د سولې او ټیکاو پر برخه کې مرسته وکړي. غني هم د کرزي په څېر ګومان کوي چې د سولې کیلي د پاکستان په لاس کې ده او دغه هېواد دا وړتیا لري چې افغان طالبان د سولې د خبرو مېز ته حاضر کړي. له همدې امله یې د پاکستان لپاره له هند څخه د وسلو رانیولو تړون وځنډاوه، پاکستان ته یې د ملي اردو افسران د روزنې لپاره واستول، تاجکستان ته یې د پاکستاني مالونو لېږدولو لپاره وړیا ټرانزیټ ومانه، استخباراتي لانجمن تفاهم‌لیک یې لاسلیک کړ او داسې نور هغه اقدامات یې وکړل چې لا له پاکستانه یې مثبته پایله نه ده ترلاسه کړې.

د غني د حکومت په باور، دوی د دوو هېوادونو اړیکو ته د موسمي لید پر ځای ستراتیژیک نظر او هدف لري؛ ځکه د پاکستان معمولي ناغېرۍ په پام کې نه نیسي او خپل ستراتیژیک هدف پالي. ولسمشر اشرف غني په تېر نهه میاشتني حکومت کې یو ځل اړ شو چې د پاکستان د ژمنو د ځنډ په اړه یې خپل سکوت هم

[2] See online:

http://www.bbc.com/persian/afghanistan/2014/09/140929_ashraf_ghani_inauguration_final

«ستراتیژیک» وباله. غني نه یوازې دا چې د پاکستان ځنډنیو ژمنو په کوردننه منزوي کړی، بلکې په هېواد کې دننه پاکستان‌ضد مخالفتونو هم په سیاسي لحاظ تر فشار لاندې راوستی دی.

خو په بل اړخ کې پاکستان بیا د اشرف غني برعکس ډېره ګټه ترلاسه کړه. پاکستان په تېرو ۱۴ کلونو کې په لومړي ځل په افغانستان کې د هندوانو د نفوذ مخه ډب کړه او ترڅنګ یې له افغان لوري زیات امتیازات هم ترلاسه کړل.

## له استخباراتي همکاریو تر تورونو لګولو

لکه څنګه چې پورته هم اشاره وشوه، سربېره پر دې چې پاکستان د  ولسمشر غني له خوا له ورکړل شوو امتیازونو سره سره کوم ملموس اقدام نه دی کړی؛ مګر غني لا هم انتظار کوي او په اصطلاح «ستراتیژیک سکوت» یې کړی.

تر ټولو تازه مورد چې د افغان حکومت له لوري پر پاکستان نیوکه وشوه، د جون پر ۲۱مه د دغه هېواد د پارلمان پر ودانۍ د طالبانو ډله‌ییز برید و. د برید مسوولت طالبانو په غاړه واخیست؛ خو له برید وروسته د ملي امنیت ادارې ویاند د برید پړه پر پاکستان واچوله او ان په بې‌ببلګې ډول د «بلال» په نامه د پاکستان د استخباراتي ادارې یو تن غړی هم د برید د لوجستیکي همکارۍ مسوول وبلل شو.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند دغه تور رد کړ. د پاکستان استخبارات داسې مهال د افغان استخباراتو له خوا د هېواد پر پارلمان د برید له امله تورنېږي، چې د دواړو ادارو ترمنځ امنیتي تفاهم‌لیک هم لاسلیک شوی. دغه تفاهم لیک، چې بشپړ متن یې تېره اوونۍ ویسا ورځپاڼې خپور کړ[3]، په یوه ماده کې یې د استخباراتي معلوماتو پر تبادلې موافقه شوې ده. د تفاهم لیک د متن نشرېدا هم د غني حکومت تر فشار لاندې راوستی دی.

---

[3] See online:

http://www.dailyweesa.com/?p=11064

د ملي یووالي حکومت او پاکستان ترمنځ د ښو اړیکو دوره ډېره لنډه وه. د امنیتي تفاهم‌لیک په شتون کې چې کله د مقابل لوري استخبارات له دې خوا په داسې یوه دسیسه تورن شي، له دې ښکاري چې د امنیتي تفاهم‌لیک متن د کاغذ پر مخ پاتې دی. له بلې خوا د سولې په بهیر کې هم اوس ورو ورو په ډاګه شوې ده چې اورمچي ناستې د پاکستان له خوا په دې موخه تر سره کېږي چې له افغان حکومته نور امتیاز هم واخلي.

## لابي که بې باوري؟

په افغانستان کې د پاکستان په تړاو ډېرې بې‌باورۍ شته دي، د دغو بې‌باوریو له منځه وړل یوازې د خبرو له لارې ممکن نه دي او نه هم هر ځل د افغانانو د بې‌باوریو تر شا د کابل پاکستان-ضد لابي ده. دا چې د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې بې‌باوري بیا زېږي، پړه یې پر دواړو لوریو ده. ځکه پاکستان ته په اوسنیو حالاتو کې په کار نه وه، چې له افغاني لوري سره یې داسې ژمنې کړې وای چې اوس یې بشپړول د دوی په وس پوره نه دي. د دې ترڅنګ، افغان لوري هم په سمه توګه طالبان ونه پېژندل او نه یې د رېښتینې سولې اصلي لورې درک کړ، بلکې د سولې په تړاو یې همغه د کرزي تګلاره تعقیب کړه. اشرف غني هم د سولې کیلي د پاکستان په لاس کې ګڼي، له همدې کبله یې له پاکستان سره خپلې اړیکې ښې کړې، امتیازات یې ورکړل او په بدل کې یې غواړي، چې پاکستان به هېواد ته سوله راوړي.

په افغانستان کې د وروستیو میاشتو بې‌ثباتیو، ناامنیو او د ارومچي جعلي ناستې دا ثابته کړه، چې پاکستان د افغانستان په سوله کې یو له سیمه‌ییزو ابعادو کېدای شي؛ خو د افغانستان د سولې اصلي لورې هېڅکله هم نه شي کېدای.

اوس چې په افغانستان کې د اسلام‌آباد په تړاو د خلکو غبرګونونه او تاثرات یو ځلې بیا زړه جامه رانغاړي، پاکستانیان د دغه وضعیت ډېره پړه پر هندي لابي وراچوي. خو دا ځل د نوي زیږېدونکې بې‌باورۍ تر شا بیا هم دواړه حکومتونه ملامت دي. افغان لوري ته په کار وه، چې له طالبانو سره یې په نېغ ډول د سولې خبرو ته لاره پرانیستې وی او ترڅنګ یې پاکستان هم د افغانستان په سوله کې د یوه سیمه‌ییز اړخ په توګه رادخیل کړی وای؛ مګر افغان حکومت د فشار د یوې داسې آلې په توګه ورته وکتل، چې طالبان یې هم د دې پالیسۍ پر خلاف حساس کړل.

که چېرې د سولې په تړاو د اشرف غني د پاکستان کارد له ناکامۍ سره مخ شي -لکه چې همداسې ښکاري هم- نو دی بیا اړ دی چې یا خو له طالبانو سره مخامخ خبرې وکړي او یا هم د خبرو لاره بنده او د جګړې لار غوره کړي. که د جګړې تګلاره انتخابېږي، نو نه یوازې دا چې بې‌ثباتي به حاکمه وي، بلکې د اشرف غني د حکومت نورې تګلارې به هم د امنیت او ثبات د نشتوالي له کبله له ناکامۍ سره مخ کېږي.

## وروستۍ خبرې

د افغانستان حکومت په ډېرې عجلې سره پاکستان ته یو لړ امتیازونه ورکړل. مخکې له دې چې لومړی پاکستان وازمویل شي چې څومره توان لري او بیا له خپل توان سره امتحان شي چې مرسته کوي کنه. اشرف غني تر هر څه وړاندې د یو اړخیزې باورجوړونې له لارې وغوښتل چې پاکستان سره ښې اړیکې ولري.

**لومړی**؛ پاکستان دومره څه نه شي کولای څومره چې اشرف غني باور کوي. د چین په اورمچي کې ناستې ښیي چې پاکستان نه شي کولای اصلي طالبان چې افغانستان کې روانه جګړه رهبري کوي، تر فشار لاندې راولي او د سولې بهیر چټک او خبرې پیل کړي.

**دویم**؛ پاکستان چې څه کولای شي هم، له افغانستان سره لا هم رښتینی نه دی. د بېلګې په ډول د افغانستان د باور ترلاسه کولو لپاره نه غواړي هند د اپټا ټرون برخه شي. ځکه د هند په ګډون سره افغانستان چې ډېر کمزوری اقتصاد لري، ګټه پورته کوي؛ خو پاکستان د افغانستان لپاره دا کار نه دی کړی. د افغانستان د یو اړخیزو هڅو پر خلاف پاکستان خپله برخه اقدامات نه دي کړي؛ ځکه نو د شهر العسل د پای احتمال راټوکېدلی.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com – www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)